جاویدان باد خاطره تابناك شهدای قیام سه حوت درکابل

PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړی کال (٢٤) ګڼه د١٣٦٩ هـ ش کال دحوت (٨مه)

پـه خـلـیـج کـې ځمکنی جګړه پیل شـوه

(٧) مخ کي

دخوست شاوخوا کې دمجاهدینو په سنګرونو درژیم هوایی اوځمکنی حملی جریان لری

پکتیا دجهاد هنداره خبریال : دهغه راپوړونو له مخی چې دالحاج مولوی جلال الدین حقاني له جبهاتو څخه دجهاد هنداری اداری ته رسیدلی ویل شوی چې دکابل مزدوررژیم له خوا دیوه ویشتل شوی سکډ توغندی دخوست ښارپه شمال ختیزه سیمه کې دسروبی علاقداری په سیمه کي ولږیدلو چې په نتیجه کې ٤ تنه مجاهدین شهیدان اودری تنه نور ټپیان شول .

همدارنګه ویل شوی چې دمزدور رژیم الوتکو دخوست په اطرافو کې د درملکی ، لیژی ، تودی چینی اوبړی په سیمو کې دمجاهدینو په سنګرونو بمباری کړی ده .

(٨) مخ کي

په خلیج کی دامریکایی پوځونو د موجودیت لارصدام بخپله هواره کړ ی

(الحاج دین محمد)

په (٢)مخ کی

مظاهره چیان مجسمه بزرگ رهبر کمونستي البانیا را سرنگون ساختند

بدنبال سرنگونی مجسمه بزرگ انور خواجه رهبر قبلی البانیا توسط مظاهره کننده گان رئیس جمهور البانیا تمام قـدرت اداری حکـومـت را بدست گرفته است .

طبق یك خبر رادیو صدای امریکا رئیس جمهور البانیا طی بیانیه تظاهرکننده گان رامتهم بر اغتشاش علیه دولت نموده گفت که بحران

(٧)مخ کی

عراقي پوځونه له کویټ څخه وزي

دبي ، بي ، سي راډیو دبغداد راډیو له خولي رپوټ ورکړي چې صدام حسین په کویټ کي خپلو پوځونوته امرکړي چي له هغه هیواد څخه په شاشي.

په اعلامیه کي راغلي چي دکویټ تخلیه دملګرو ملتودسازمان دامنیت دشورا د(٦٦٠) لمبر پریکړه لیك په اساس صورت مومي چي په هغه کي بي له عراق څخه غوښتل شوي ووبي له قید اوشرطه له کویت څخه ووزي په اعلامیه کي له کویټ څخه دعراقي پوځونو دوتلو لپاره موده نده ټاکل شوي.

راډیو زیاته کړي ، امریکایي مقاماتوددغي اعلامیي په هکله ډیر محتاطانه عکس العمل ښودلي اوویلي یي دي چې دعراق پرضد دائتلافي پوځونو جګړه به دوام ومومي .

دعراق دغه ابلاغیه دهغه هیواد پر ضد دائتلافي پوځونو دځمکني یرغل لـه پـیـل څـخـه ٤٨ سـاعـتـه وروسـتـه صـادره شـویـده .

کابل رژیم دمجاهدینو پر ضد ٢٥٠٠ سکاډ توغندی ویشتي دي

روسانو په افغانستان باندی خپل رژیم تیلی اواوس له هغه څخه د٣٥٠ ملیونو ډالرو په لګولو ملاتړکوی .

دغه ټکی دافغانستان دمجاهدینو له پاره دامریکا خاص استازی پیټرټامسن څرګندکړیدی ، همدا رازده ویلی له افغانستان څخه دروسانو له تیښتی نه دتیرکال دجوڼ ترمیاشتی پوری درژیم ترولجی لاندی محدودو ښارونو څخه دمجاهدینو پر مورچو باندی ٢٥٠٠ سکاډ توغندي ویشتل شویدی برسیره پردی روسانو ځینی نورنوی اوزیات شمیر سلاح ګانی هم دکابل رژیم په واك کې ورکړیدي .

ده وویل په کابل جلال اباد اونورو ښارونو کې خپله روسانو دجګړی له پاره ډیر ټینګ سنګرونه جوړکړیدی .

پیټرټامسن زیاته کړه روسان په داسی حال کې دکابل رژیم څخه ملاتړ کوی چی دافغانستان دخاوری په سلو کې اتیا برخه دمجاهدینو په لاس کې ده .

قوماندان محمد انور دبي ، بي ، سي له خبریال سره په مرکه کی :

دقوماندانانو سرتاسري شورا غواړي چي دپسرلي لپاره نظامي پلانونه جوړکړي تر څو متحده اوهم اهنګ عملیات پیل شي

په (٧)مخ کی

دقوماندانانو دسرتاسري شورا له اهدافو څخه ملا تړ

دقوماندانانو دسرتاسري شورا هیأت دهیواد جنوب لویدیزوولایاتو له قوماندانانواومشرانو سره دشورا داهدافو اودهغه دراتلونکي کاردڅرنګوالي په اړوند له مفصلو خبرواترو اوبشپړتوافق وروسته پیښور ته راستون شو.

دقوماندانانودسرتاسري شورا یوخبرځاي (دجهاد هنداره) جریدي خبریال ته ددغه مطلب دڅرګندولو په ترڅ کي وویل چي دجهادي قوماندانانو یوهیأت دالحاج مولوي جلال الدین حقاني په مشری په بلوچستان کي دهیواد دجنوب لویدیزو ولایاتو له قوماندانانو اومشرانو سره دشورا دهدفونو دچارو دپراختیا اوچټکتیا په اړوند دخبرو لپاره هغه ځاي ته لاړ اودهغه ځاي قوماندانانو سره‌یې‌دوروري په فضا کي خبري وکړي . دهیواد جنوب لویدیځو سیمو قوماندانانو دشورا له اهدافو سره پوره موافقه اوملاتړاعلان اودراتلونکو پلانونو اوطرحو په اړه هم بشپړې‌موافقي ته سره ورسیدل .

خبرځاي زیاته کړه قوماندانان دقندهارولایت په سپین بولدك کي دشورا دمرکز پر پرانستو هم سلا شویدي.

همدارنګه دجنوب لویدیزوولایاتو دقوماندانانو یوګډ کمیسیون هم ټاکل شوي چي پوځي پلانونه به تراجرالاندي نیسي اوپه هیواد کي به یې پلی کوی .

په اته مخ

په بغلان کی دملیشه و او خاد یستانو ترمنځ نښته

بغلان

دمیډیا دخبررسولو اداره دعینی شاهدانو له خولی خبرورکوی چی دبغلان ولایت دعلی اباددعلاقداری په لارکی دواد قواؤ دمزدور رژیم دحکومتی ملیشه ؤ پر یوه امنیتی پوسته برید وکړ .

ددی جګړی په ترڅ کی ددواړو خواو څخه (١٢) کسه مړه او (٢٢) کسه ټپیان شوه .

عینی شاهدانوویلی چی ددی جګړی اصلی علت دملیشه ؤ دامنیتی پوستی له خوا دچوراولوټ ماری هغه سلسله وه چې هم دکلی خلك اوهم دنظامی قطعاتو منسوبین چی دګزمی لپاره به راتلل ، له هغی څخه په تنګ راغلي ؤ .

دکمونستی اقتصاد دبنیاد نړونه

دبلغاریا حکومت تصمیم نیولی هغه څلورملیونه پنځه سوه زره هکتاره ځمکه بیرته دهغو مالکانو اویا وارثانو ته ورکړی چې څلوریښت کاله مخکی کمونستی نظام له خلکو نه په زورغصب کړی ؤ .

ددغه تصمیم دعملی کولو لپاره دبلغاریا پارلمان یوه لایحه تصویب کړیده چې په هغه کې ویل شوی دهغه هیواد هره کورنی کـولای شـی دیـوی دیـرش هکتاریزی کروندی لاس ته راوړلو لپاره درخواستی ورکړی .

دچکوسلواکیا حکومت دختیځی اروپا لـومړنی هیـواد دی چې دکمونستی رژیم له خوا غصب شوی شتمنی یې بیرته دهغو مالکانو ته ورکړل .

دچکوسکواکیا حکومت په دغه اقدام سره دیوولسو ملیاردو ډالرو په ارزښت شتمنی دهغو مالکانو اویا وارثانو ته مسترده کړیده .

سرمقاله

دحوت ددریمي نیټې له ویاړه ډك پاڅون

دافغانستان ویاړمن او لرغوني تاریخ ثابته کړیده چي افغانان دزماني په اوږدو کي هیڅ ظالم ، جابر ، ستم ګر اومغرور قوت ته دتسلیمي سرنټي ټیټ کړي اوتل یي له زور ګویانو اوظالمانو سره ډغري وهلي دي .

هو ! له سکندر نه نیولي بیا دانګریزانو اووروسته دروسي سرولښکرو دسرکوبي په همدي خاوره کي خاورې شویدي ، اودهمدي اولس په مقابل کي په ګونډو شوي اودهاتي زهرجن جامونه یي ګوټ کړیدي .

ددي ویاړونو اوبریالیتوبونو لاسته راوړل اودغو افتخاراتو ساتنه دمالي زیانونو ، قربانیو ، جیلونو ، زړونو منلو برسیره مقدسه اسلامي عقیده ، کلك ایمان اوټینګ عزم هم غواړي چي ددغو ځانګړتیاو اومشخصاتو څخه هرقوم اوهر ټبر برخمن ندي .

افغان مومن ملت دالله تعالي (ج) په مرسته دهمدغي

٨ مخ کي

دخلیج جګړه مسلمان امت ته یو دردناک عبرت

(٣) مخ

مـوږ ددښـمـنـانو تـولـي نـاپـاکـي هـیـلـي یـوازي دجـهـاد پـه واسـطـه ختـمـولای او ورکـولای شـو

«الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

پاکستان ته دروسي هیئت دسفر بل اړخ

پاکستان ته دروسي دیوه لوړرتبه پارلمانی هیئت له سفر سره دافغانستان دربړی په اړه دکتونکو له خوا یو لړ نویو تبصرو بڼه نیولی اوپدې رابطه په اصطلاح دنویو انکشافاتو اوپرمختګونو څرګندونې شویدي .

په خپروشویو څرګندونو کې ویل شویدي چې نوموړی روسي هیئت په پټه توګه پاکستانی مقاماتوته وړاندیز کړی چې که چیری داسی شرایط برابر شی چې دکابل دړژیم دوطن ګوندته په راتلونکو انتخاباتو کې برخه ورکړی شی نودیوه عبوری حکومت دقیام لپاره به نجیب له اقتدارڅخه ګوښه کړی شی خو ددې ترمخه داضروری ده چې په افغانستان کې اوربند اعلان شی البته انتخابات به دعبوری حکومت تر څارنی لاندې کیږی اوپدغو انتخاباتو کې به دنجیب دوطن ګوند هم برخه لری .

دغه څرګندونی چې یوې هندی ورځپانی (اندیانا ابراډ) دلومړی ځل لپاره خپری کړی دمجاهدینو له دریو مشرانومحترم استاد رباني ، استاد سیاف او محترم حکمتیار صاحب سره هم ددغه روسي هیئت دلیدنی خبر خپورکړی اولیکلی یې دي چې پدغه ملاقات کې په کابل کې دروس سفیر هم برخه لرله اخبار لیکلی روسان اوس پدې نظر دي چې دحکمتیارله خوښنی پرته په کابل کې دیوه قوی حکومت جوړیدل ناشونی خبره ده خودځینو جهادی حلقو له خوا دروسي هیئت سفر دهغو توطئو یوه کړی بلل شوی چې کرملین غواړی له داډول ظاهری حرکتونو څخه هم دمجاهدینو ترمنځ دبی اتفاقۍ له پاره اوهم دعامه ذهنیت داړولو کارواخلی :

پدې پسی جوخت دعبوری حکومت مشر ښاغلی مجددی په یوه خصوصی چارټر الوتکه کې جرمنی ته سفر وکړ، ویل کیږی چې نوموړی به په جرمنی کې دپخوانی پادشاه له پلویانو سره په اصطلاح دیوه وسیع البنیاد حکومت دجوړیدو په هکله خبری کوی .

ښایی ووایو چې مجددی دعبوری حکومت له جوړیدو مخکی دپخوانی پادشاه له پلویانو څخه ګڼل کیده خوکله چې دعبوری حکومت مشر وټاکل شو ظاهرشاه یې دتیروخت یوژړه خاطره وګڼله اوزیاته یې کړه داوسنیو حالاتو ترمخه دظاهرشاه له پاره دافغانستان په سیاست کې دهیڅ ډول رول اونقش ځای نه لیدل کیږی خووروستی جریانونه یو ځل بیا دی یوه ډرامایی حرکت اوبدلون ته اړکوی اویو ځل بیا دظاهرشاه دمطرح کیدو له پاره په هڅو پیل کوی .

ددې ترمخه خلیج ته دافغان مجاهدینو دلیږلو په رابطه له ښاغلی مجددی سره دنوروجهادی مشرانو سخت اختلافات رامنځ ته شوی اوښاغلی حکمتیار په ډیر سختو ټکو کې دمجددی ددغه اقدام مخالفت اوغندنه وکړه پدې توګه دمحترم استادسیاف ، محترم حکمتیار اومحترم استاد ربانی له خوا دښاغلی مجددی دااقدام دده شخصی عمل وګڼل شو ، نه دعبوری حکومت اومجاهدینو پریکړه .له دې سره

(۷) مخ کې

د خلیج جګړه مسلمان امت ته یو دردناک عبرت

شفیقي

دادي پوره شلویښتمه ورځ ده چې په خلیج کې دجګړي لمبې بلې دي ، پر عراق او کویټ داور اوباروتو زلزلي ګډي دي اودعراق اوکویټ دمسلمانانو پرسرونو اوکورونو داوسپنو اوپولادو باران اوري.

په دغه ورانوونکي جګړه کې تراوسه پوري ډیري هستي ، شتمني اوانساني ککری خاوري شوي ، اولا دطاغوت دوحشي ټکنالوژۍ په زور دکویټ او عراق له لمني داسلامي تمدن اوشتمنیو اثار محوه کیږي اوجارو کیږي په زرګونو تنه مسلمانان وژل شویدي ، دعراق اوکویټ دمسلمانانو ولسونو زیاته او نژدي ټوله ابادي دطاغوتي الوتکو اوتوغندیو په واسطه دځمکي له مخي نه ورکه شوي ده ، په لسګونو دتیلو خاګانې داورپه لمبو اودباروتو په چاودنو کي پو پناه شول اوپه لسګونو نور اقتصادي مرکزونه اوفابریکي چي دعراق او کویټ دمسلمانانو اوسیدونکو دژوند لومړني موادیې برابرول له خاورو سره خاوري شوي اودادي له اته دیرش ورځو هوایي یرغلونو اودرنو بمباریو وروسته دعراق اوکویټ په سرحداتوکي دعراقي اوامریکایي پوځونو ځمکني جګړي هم په توندي سره پیل شوي اوپه دیره چټکي سره سیمه دبشپړي نابودي په لوري ورټیل وهي ، چي تراوسه پوري په دغه ټولو درندو مالي اوځاني زیانونو کي زیاتره برخه تاوان داسلامي امت اومسلمان قوم پر اوږو دي دامریکااولویدیځو طاغوتي متحدینو ځاني زیانونه خوپه هیڅ کي شماردي البته تراوسه متحدینو ته چي کوم دپام وړتلفات رسیدلي هغه یوازي جنګي الوتکي دي چي بیاهم ددووهیوادونو «عراق اوکویټ » دبربادي په بیه هیڅ هم نه ګڼل کیږي .

داخبره په ځاي ده چي دخلیج دروانې تراژیدي اصلي عامل چي سیمه یې داور اوویـنو په ډنډ کي ورښکیل کړه غاصب صدام دي چي دکویټ پر هیواد یې دبین المللي قوانینو اونورمونو خلاف یرغل وکړ اوهغه یې اشغال کړ، چي ښکاره ده دجګړي ټوله ملامتي اوس پر هغه ورلویږي خوکه ددغه خونړي جګړي دپیل نه مخکي اوراوروسته جریانونه ته ښه ځیر شو پردي برسیره چي صدام ددغه جګړي دپیښیدو عامل دي خوځني داسي نور اړخونه هم رابرسیره کیږي چي په دغه جرم کي له هغه سره نورهم شریک دي اوترټولو ښکاره خبره لا داده چي صدام همدغه ستر اقدام اوجنایت ته هغه چا هڅولي چي نن دعراق دمسلمان ملت په سر دجنګي مجرم په پلمه دباروتو اوپولادو بارانونه اوروي.

په هرصورت دخلیج دجګړي په اړه کـه اوس لـه دي تیرشو چي دغه جګړه دچا په واسطه پیل او دجګړي مجرمین څوك دي ، اوبیا داښکاره خبره ده چي ددغې دردناکي فاجعي انجام دټول اسلامي امت دضعف اوکمزوري اوپه خاص ډول ددوو مسلمانو هیوادونو « عراق اوکویټ » له بشپړي تباهي پرته بل څه نه دي ، دخلیج جګړه مسلمان امت اوټولي نړي ته څه درسونه اوعبرتونه هم له ځانه سره لري چي کـه اسلامي نړي اومسلمان ملتونه پام وکړي خپله راتلونکي لاره ښه تشخیصولي شي او کیداي

(۷)مخ کې

په خلیج کې دامریکایي پوځونو دموجودیت لار...

دافغانستان دعبوری حکومت دملی امنیت وزیر اودافغانستان داسلامي حزب مرستیال حاجی دین محمد دپاکستان دیوی معتبری ورځپانی (نوای وقت) سره په یوه خصوصی مرکه کې وویل :

موږدسعودی عربستان په غوښتنه د ۳۰۰ تنو څخه دزیاتو مجاهدینو یوټولی د(حرمین شریفین) دحفاظت اوساتنی لپاره ولیږه چې هغوی په ریاض کې

دسعودی عربستان دپوځ ترقوماندی لاندی دي هغوی زیاته کړه چې دمجاهدینو دبدناмولو لپاره دا پروپاګند غږول کیږی چې دمجاهدینو دغه ټولی دامریکایې پوځونو مرسته اوملاتړکوی حاجی دین محمد وړاندی وویل کوم مجاهدین چې سعودی عربستان ته لیږل شوی دي هغه موږ خپل فرضیت ګڼو ترڅو زموږ مجاهدین دحرمین شریفین ساتنه وکړی اوددې پریکړی فیصله په قاهره کې داسلامي کنفرانس دشوری دغونډی په دوران کې شوی وه حاجی صاحب دهغه پروپاګند سخته غندنه وکړه اوداتوریې رد اودرواغ وباله چې مجاهدینو دخپل قوم سره خیانت وکړاوخپل ځانونه یې په ډالرو وپلورل هغوی وویل چې دافغانستان دعبوری حکومت ټولو مشرانو له اوله هم په کویټ باندی دعراق قبضه غندلی ده اوموږ ته داهم معلومه وه چې صدام حسین څوك دی ؟ اوده دافغانستان دجهاد په وخت کې کومی کومی کارنامی ترسره کړیدی. ښکاره خبره ده چې ده دروس ملګرتیاېکړیده اوپه افغانستان کې یې د۱۵ لکو مجاهدینو پر شهادت خندلی دي صدام دنجیب دکمونستی اوګوداګی حکومت هم ملګرتیا کړیده ځکه اوس نجیب دعراق ملګرتیا کوی صدام په لبنان کې دمسلمانانو مرسته اوملاتړ لا څه چې داسرائیلو دپوځی جرنیلانو دظلمونو پلوی هم کړیده،همدغه صدام ۸ کاله دایران په مقابل کې وجنګید اوپه کردستان کې دمسلمانانو قتل عام هم دده له جنایاتو څخه دی .

که چیری ده دکویټ پرځای په اسرائیلو برید کړی وی نوګرده اسلامي نړۍبه دده ملګری وه خوده دفلسطین په کشاله کې یواځی دالفاظو څخه کاراخیستی دی اوکوم عملی قدم یې ندی پورته کړی ترڅوپوری چې فارس خلیج ته دامریکایې پوځونو دراتګ تعلق دی نوموړددوی دناپاکه عزایمو څخه په پوره توګه خبریو ځکه چې دوی هیڅری هم دمسلمانانو ملګری نه دي .

دوی زیاته کړه : لکه څنګه چې موږدلوی قوت روس په مقابل کې وجنګیدو همدارنګه دامریکاپه مقابل کې هم جنګیدی شو ځکه هرڅوك چې داسلام اومسلمانانو مخالف وی هغه زموږ دښمن دی که هغه امریکا وی اویا روس.

هغه وویل : موږ دعراق خلك دمسلمانانو په صفت پیژنو اوددوی سره په درد،غم اوتکلیف کې پوره پوره شریك یو .

خلیج ته دامریکایي پوځونو دراتګ لاره صدام هواره کړیده اوس ټولی اسلامي نړۍ ته پکاردي چې په عراق باندی زورواچوی ترڅوله کویټ څخه خپل پوځونه وباسی .

له دې څخه وروسته ټول مسلمانان امریکا ته ویلی شی چې خلیج څخه ووځی اوکه هغوی انکارکاوه نوبیا زموږ دمجاهدینو دااراده ده چې دسعودی عربستان څخه به یې بهروباسو.

حاجی صاحب زیاته کړه چې له شرعی لحاظه هم که چیری ددوومسلمانانو جګړه ونښلی نو لومړی پکې باید دسولی کوششونه وشی اوکه سوله سرونه نیسی نوبیا دظالم پرځای باید دمظلوم ملګرتیا وکړای شی وړاندی یې وویل زموږهیله ده چې په حرمین شریفین کې باید زموږ تعداد نورهم زیات شی نوله دی خاطره دمجاهدینو د ۴۰۰ تنو خواوشایوه بله ډله هم ډیره زرسعودی عربستان ته تلونکی ده دروسانو دپارلمان یوه ډله چې په اوسنیو وختونو کې پاکستان ته راغلی وه حاجی صاحب دتبصری په وخت کې وویل چې دغه ډله دیوی خاصی منصوبی اودیوه سازش له مخی پاکستان ته راغلی اوغواړی ددغه ډول تزویرونو اومانوروله لاری خپل تجاوز اووحشت پټ وساتی .

رژیم کمونست کابل میخواهد روابط خود را با پاکستان بهتر سازد

رژیم گفته است که درروابط باایران هیچ مشکلی ندارد

ایا حکومت پاکستان باشوروي به توافق رسیده است ؟

منابع خبری غرب اطلاع دادند که حزب کمونست خلق دررهبری رژیم دست نشانده مسکو درکابل بعد ازسالهای خصومت وکینه ورزی با پاکستان اکنون میخواهد روابط خود را باین کشور بهترسازد ، بقول منابع مذکور حزب کمونست خلق ضمن ابراز ارزومندی به پاسخ مناسب ازجانب پاکستان گفته است که در روابط با ایران هیچ مشکل ندارد .

تقاضای رژیم کابل بخاطر بهبود روابط با پاکستان به سلسله عقب نشینی های تاکتیکی که رژیم کابل بعد ازخروج عساکر روسی ازافغانستان اغازنموده است میباشد گرچه اینگونه تقاضای ازجانب رژیم به پاکستان تازه گی ندارد ولی درمرحله کنونی تقاضای مجدد ان نیرنگ جدیدی است که رژیم کابل میخواهد گویاخلوص نیت خودرا بخاطر بهبود روابط با کشورهای همسایه وازینطریق بخاطر رفع معضله موجود افغانستان که به اثر پا فشاری برای ادامه حکمرانی گروه کمونست برخکومت کابل طولانی تر گردیده است تبارز دهد .

رژیم کابل اخلاصمندی مکارانه خود را درحالی بیان می نماید که در اثر جنگ خلیج موضوع افغانستان ازصدد موضوعات داغ جهان پایین افتاده است وبا این اقدام خود میخواهد بااستفاده ازفرصت بزعم خویش بروجه کاذب سلح خواهانه خود بیا فزاید .

حکومت ومردم پاکستان بحیث مردم همسایه ومسلمان به مردم افغانستان درروزی مدد وياری بی ريا رسانیدند که کمونست های کابل با همدستی اردوی خون اشام روس ازهواوزمین برمردم مسلمان وفقیر افغانستان اتش وخون می باریدند ، خانه وکاشانه گلین شانرا با همه داروندار با خاک یکسان کردند هزاران هزار مادربی فرزند هزاران هزار پسر ودختر یتیم وان هزاران دیگر بیوه وبی یارومددگارشدند چنین روزسیاه بود که بازهم همین گروه کمونستی وحزب کمونستی برسند حکومت کابل تکیه زده بودند تمام ان مردم که تمام امکانات مادی زنده گی راازدست داده بودند به امید ادامه زنده گی واخذ انتقام ازین قاتلان به پاکستان کشورهمسایه ومسلمان پناه اوردند .

حکومت ومردم پاکستان بر اساس حس ناگستنی اخوت وبرادری اسلامی وهمدردی با برادران همسایه که دهها پیوند وریشه مشترك روابط میان انها راتحکیم می نماید مهاجرین را با اغوش بازپذیرفتند وازانرو زیهراندازه ایکه ظلم وتشدد قشون روسی به همدستی قوای کمونستی رژیم کابل برمردم بیچاره افغان وارد می امد انها نیز بحیث پناگاه ونجات ازاظلام بیرحمانه کمونست ها به پاکستان پناه اوردند .

> اگربرتاریخ روابط دوجانبه افغانستان وپاکستان نظر انداخته شود انهاي که درخدمت کرملین بودند همیشه منبع تشنج درروابط این دوکشور شده اند کمونست هاي حاکم برکابل نیز که ازنوکران راستین کرملین هستند بنحیث ستراتیژي دوررس روسیه هیچگاه طرفداربهبود روابط افغانستان وپاکستان نبوده

دولت پاکستان علاوه ازانکه با همکاری مردمان وکشورهای که ازظلم ووحشت کمونستی نفرت داشتند بامردم مهاجر افغان کمك نمود درکنار مردم افغانستان قرارگرفته خواستار پایانی ظلم ووحشت برضد مردم افغان گردید وهیمن تقاضای انسانی وطرفداری برحق دولت پاکستان بود که رژیم کمونست کابل راکه گرگ پیرو کریه المنظر کرملین برپست انها تپ تپ می زدند پاکستان رادشمن خود تلقی نموده علیه اینکشور به توطئه گری های رنگارنگ پرداختند .

دولت پاکستان هیچگاه رژیم کابل را دشمن خود نخوانده بلکه گفته است رژیم کابل که منبع تمام بدبختی های جاری ملت افغان است باید از مسند قدرت وزورکنار رود تا ان پنج وشش ملیون مهاجر افغان که یا درپاکستان ویا ایران ویا هم درسایر کشورها منتظر بازگشت بوطن خود اند دوباره ابرومند انه بوطن خویش برگردند وهمین موضع برحق پاکستان است که رژیم کابل انرامداخله درامور خود که کرملین برای انها با هزارجگرخونی درست نموده است میدانند.

اگربرتاریخ روابط دوجانبه افغانستان وپاکستان نظر انداخته شود انهای که درخدمت کرملین بودن همیشه منبع تشنج درروابط این دوکشور شده اند ، کمونست های حاکم برکابل نیز که ازنوکران راستین کرملین هستند بحیث ستراتیژی دوررس روسیه هیجگاه طرفداربهبود روابط افغانستان وپاکستان نبود ونیستند چنانچه ازدوران جمهوری داود خان تاهمین لحظه که خدمت گزاران مسکوبرکابل حکومت می کنند روابط این دوکشور بهبود نیافته است چه تزاریهای کمونست روسیه همان خواب وخیال رامی دیدند که تزارها درقرن هجده ونزده بخاطر دسترسی به ابهای گرم می دیدند .

حمله ولشکرکشی روسیه به افغانستان هیچگاه یك مساله ساده نبودبلکه حلقه ازیك زنجیر استعماری بود که کرملین انرا میخواست بدورکشورهای بیشتر جهان کشد اما امروز که ماشین کمونیزم ازچرخش افتاده وامپراطوری ظلم ووحشت ان پارچه شده برای صلح جهان وبه اصطلاح انها بخاطر همزیستی مسالمت امیز فریاد می زنند رژیم کمونست بیاری ایجنت های مسکو تمام امکانات وابکارگرفت تادرجریان جنگ داخلی افغانستان رژیم پاکستان را متزلزل سازد اما هنگامیکه تمام تلاش هایش بیاس مبدل شد اکنون میخواهد ازدرصلح ومسالمت پیش اید وخواستار بهبودی روابط گردد گرگ همان گرگ است ولی پوستش دیگرشده .

> رژیم کمونست کابل بیاري ایجنت هاي مسکو تمام امکانات رابکارگرفت تادرجریان جنگ داخلي افغانستان رژیم پاکستان رامتزلزل سازد اما هنگامیکه تمام تلاش هایش بیاس مبدل شد اکنون میخواهد ازدرصلح-ومسالمت پیش اید وخواستار بهبودي روابط گردد

پاکستان که ازهمان ازاغازطرفداربربادی مردم ووطن افغانها نبود عمل خاینانه رژیم کابل رامحکوم وبا امدادوکمکهای برادرانه ، اخوت اسلامی را با مجاهدین ومهاجرین افغان بیش ازپیش مستحکم ساخت وامروز که مجاهدین افغان قوای وحشی روسی راازوطن بفرارمجبور ساختند وفعلان هم مصروف ازمیان برداشتن اخرین بقایای روسها درکابل اند اعتماد واطمینان حکومت ومردم پاکستان به قهرمانی های مجاهدین ومهاجرین افغان بیشتر ازگذشته تثبیت گردیده ازموضع وموقف عادلانه مجاهدین دفاع می کنند .

حکومت پاکستان ازین تقاضای مجاهدین ومهاجرین کاملا حمایت وپشتیبانی می نماید که برای حل قضیه افغانستان باید حکمروایان کمونست کنونی ازمسند قدرت کناربروند تازمینه بازگشت پنج ملیون مهاجر افغان به وطن شان فراهم گردد .

بناء تقاضای رژیم کابل بخاطر بهبود روابط با پاکستان درلحظه صورت می گیرد که تمام مداخلات وخواب وخیال هایش بخاطر نابودی کامل مجاهدین ومهاجرین ومتزلزل ساختن نظام پاکستان به یاس ونا امیدی مبدل شده است .

مجاهدین ومهاجرین ازموضع وموقف پایدار پاکستان مبنی برمخالفت قطعی بارژیم کابل اطمینان کامل دارند ولی انچه که باید بحیث یك تاکید گفته شود اینست که رهبری جهاد درمقایسه بارژیم کمونست کابل که بخاطر بقایش سخت

درصفحه (٦)

دکتور محمد یوسف گفت :

شوراي قوماندانان میتواند منبع امید واري وتصمیم باشد

درشرایط سقوط حکومت موقت همه امید ها بسوی شورای قوماندانها بوده وما امید وارهستیم که شورای قوماندانها قوت بگیرد ، مستقلانه درباره مملکت درباره صلح وجنگ فکربکند وتصمیم بگیرد .

این مطلب را دوکتور محمد یوسف سابق صدراعظم افغانستان طی مصاحبه که بمناسبت دومین سالگرد بیرون راندن قوای روسی ازافغانستان باراديو صدای امریکا انجام داده ابرازنمود .

موصوف افزود : دوسال ازخروج عساکر روسی سپری گردید اما درکشورما مخاصمات مسلحانه خاتمه نیافته وهموطنان ما فرصت ان رانیافتند که درفضای صلح وارامش به نوسازی ویرانه های کشورخود بپردازند وبرجراحات خود مرهم بگذارند

دوکتوریوسف دررابطه به حکومت موقت گفت : چون این حکومت ازهمه اقشار افغانستان نماینده گی نداشت بنا ازبین رفتن ان نیزمایه تعجب نمی باشد وحکومت موقت درجریان امور اثر مثبت نداشت .

وی افزود : متاسفانه فعلاکدام سازمان منظم ومنسجم وجود ندارد که جایگزین حکومت موقت گردد ودرصحنه بین المللی ازجنبش مقاومت افغانستان به شکل قابل اعتبارنماینده گی نماید .

صدراعظم سابق افغانستان علاوه داشت که اختلافات درمیان رهبران مجاهدین وادامه کشمکش میان انها دربی اعتبارشدن حکومت موقت نقش عمده وبارز داشته است.

دوکتوریوسف درارتباط تاثیر جنگ خلیج برمساله افغانستان گفت : موضوع افغانستان درهفت ماه گذشته تحت الشعاع بحران خلیج قرارگرفته وفراموش گردیده است.

وی اظهار امیدواری نمود که بعد ازختم منازعه خلیج به مساله افغانستان نیز طبق خواست وارزوی مردم افغانستان راه حل پیداشود

دوکتوریوسف ازاعزام مجاهدین به عربستان سعودی طرفداری نموده گفت که همدردی باکشورکویت وهمبستگی با دولت عربستان سعودی که به جهاد افغانستان کمك ومعاونت نموده اند با اعزام چند صد مجاهد برجا وبرحق میباشد

موصوف راجع به روابط اینده کشورهای همسایه با افغانستان گفت : من یقین دارم که کشورهای ایران افغانستان مستقل وازاد وکشورپاکستان دراینده با همکاری دوستانه وبرادرانه یك پایگاه امنیت وپیشرفت درین منطقه راتشکیل خواهند داد .

جهادي ادب

په افغان ولس چې چاکړی یرغل دی
داسي بوله چې راغلی یې اجل دی
پدې خاوره کې څه بل شاني تاثیر دی
هردښمن شکست خوړلی په هرپل دي

یتیمه !

« اسدالله حنیفي »

یتیمه ستاله معصوم زړه بي ننګ سرونه قربان
ستاله سلګونه تش په نوم باندې میرونه قربان
چې دې لـه اه سره اورونـه لـه ځیګره وزي
ستادځګر له سرو لمبونه ساړه زړونه قربان
چې دکمون په لمبو وریت شو ستادهیلو جهان
داستاله هیلو دبي ننګو جهانو نه قربان
دارمانونو جام دې واړاودوحشت بړیڅو
ستاله ارمانه دبي پتو ارمانو نه قربان
«حنیفي»وایي تانه ځارتانه لوګي لوګی شم
تانه مې تن تانه مې ځان اواندامونه قربان

زلزله په اپارتمان کې

طنز

محمد عارف « ننګیار »

دامې ټول دهغې نادانی میرمنی له لاسه وُ ، که نه ما چیری هم نه خوښوله چې په اپارتمان کې واوسیږم ، خو همداوه چې ویل به یې «اپارتمان ښه دی، بلا دې په انګرپسی شی» دې خوداټوله هواله هغو دری تکیه سبق اوښوونځی نه پیداکړی وه اوداسی فکریې کاوه چې ښځی ښوونځی لوستلی وی باید ضرور په اپارتمان کې ژوند وکړی اوزه یې هم په دایوه خبره قانع کړی وم چې اپارتمان په امن دی ځکه چې زه حتی له خپل سوری نه هم ویریدم .

په اپارتمان کې چې تقریباً پنځوس کوره بـه وو ټول همدازموږ غوندی نوی مهاجر وه ، چې څوك لـه ویری اوڅوك له عصریت نه دلته راغلی اواوسیدل ، خو زړونه دټولو یو شان وو ، کیدای شی دیو نیم توپیر به خامخا وُ خوهغه په زرورتوب کې نه بلکه په لګښت اویا دچا خبره په خرابات کې ، ځکه کله به چې په داخلورپوړیزه اپارتمان یوه دروازه لړیـه دریغه وتکیده نوهریو به خپل ماشوم دحال معلوموملو لپاره بیرون ته واستاوه ترڅو معلوم کړی چې څه خبره ده .

زموږترمنځ دګاونډیتوب اداب اوحقوق ډیر په زړه پوری مراعات کیدل اویو پربل مو هیڅ کار اوغرض نه درلود ، په نورو مسایلو کې لکـه جهـاد ، وطـن اوخپلوبیوزلو خلکو په باب ښه پوره بی تفاوته وو داسی چې حتی په کال کې به هم ممکن پدی هکله څه نه وی ویل شوی ، بس همدا یوشی ښه ډیر و چې « ویدیو» اوتلویزیون اوهمدغو دوویلاوو زموږ له یاده هرڅه ویستلی ووحتی خپل خپلوان هم .

(۵)مخ کی

ویراوویاړ

شفیقي

بیا به هم کله په موږ هغه بهار شي
دایاغي توپان چې ایل شي رامهارشي
ګلبنونه چې په سرو ګلونو ډك وي
دښتي غرونه موله سره لاله زارشي
چې زموږله کسو لرې توراغزي شي
ختم دغه ستړیوونکي انتظار شي
چې به کله دادغم رسالی پاخي
اندیښني موله زړګیو نه کنارشي
دادویر نغمي به هم شي کله چوړي ؟
دسلګیو ترانې به هم کرارشي ؟
که نه موږبه وو ولاړدغم چپاوته
مسلسل به ماتمونه راکتارشي
ترابده به یی پالو په سرووینو
بس همدغه تسلسل به برقرارشي
دابه موږدابه یرغل دابه انجام وي
افساني دماتو ، فتحو چې تکرارشي
کله موږ په خپلو وینو لمبیدلي
کله بل زموږ په وینو کې ایسارشي
کله کړیکي دمظلوم فلك شګافي
کله زیري ، دظالم چې تارپه تارشي
کله اوښکي سیلابونه ، اه توپان هم
کله دواړه په رقیب چې رادوڅارشي

خاطره های جاویدان

(یک داستان کوتاه) —— ج -سائل

کاکا حیدر راهمه جوانان دوست داشتند ، همه می خواستند که ازکاکا حیدر چیزی بشنوند ، کاکا حیدر سخنان دلچسپ می گفت ، واقعات وقصه های تاریخ رابیان مینمود وی که یتیم بزرگ شده وازطفلی پدررانديده بود ، اززندگی بجز رنج وحسرت بهره ای نداشت ، هرصفحه ازاوراق عمرش یك حکایت جدید بود ، که شنیدنش انسان راگیج می ساخت .

کاکا حیدر باوجود بزرگی سن صبر وشکیبایی زیاد داشت ، به اهستگی سخن می گفت خورد وبزرگ باوی علاقه خاص داشتند ، کاکاحیدر دوپسر داشت که تنگدستی وبیچارگی به ایشان مجال تعلیم نداده بود انها کار می کردند ، فقط دومرکب داشتند که توسط انها مزدی بدست می اوردند وزندگی ساده خود راپیش می بردند ، منزل انها که دیوارهای باریك انرااحاطه کرده بود دارای یك اطاق کوچك بود ، مجبوربودند بعد ازهرباران انراترمیم کنند.

خانم کاکا حیدر که درمشکلات وپریشانی ها با شوهرش شریك بود ، اکنون بادیدن دوفرزند دلبندش احساس ارامش می کرد وگذشته های تلخ راازیاد می برد انور وسخی صبح وقت به سوی کارمی رفتند وشبانگاهان بخانه برمی گشتند ، شبها درروشنایی چراغك تیلی نشسته وصحبت می کردند ، شنیدن سرگذشت های پدرشان شیرینی مجلسی رابیشتر می ساخت .

روزهای گذشت وشبها سپری می شد ، جگر گوشه های پدرومادر بزرگ می شدند ، روزی رسید که کاکا حیدر وخانمش تصمیم گرفتند تاپسر جوان شان انور رادامادبسازند، دختری راانتخاب کردند ، دریکی ازشبها موضوع رابه پسر خود انور یاد اوری نمودند ، انور می شرمید ونمیتوانست چیزی بگوید اهسته ازاطاق خارج شد، چند شب بعد پدرومادرش بازهم موضوع را به وی یاداوری نموند اینبار تاکید کردند تاجوابی ازوی بشنوند ، انور همچنان می شرمید و به زمین نگاه می کرد حیران بود چه کنند برخود فشاراورد با صدای گرفته وارام گفت : شما خوبتر می دانید هرچه خواسته باشید قبول دارم .

بالاخره انور نامزد شد ، کاکا حیدر وخانمش خیلی خوش بودند که نامزدی پسر را درزندگی خود می دیدند همه مردم به انها مبارکی میدادند صدامی زدند کاکا حیدر مبارك ، مبارك کاکا حیدر وی در حالیکه می خندید باتبسم جواب می داد خیر ببیبنی بچیم ، سلامت باشی

بعد ازگذشت یکی دوماهی کاکا حیدر تصمیم گرفت تابرای پسرش عروسی کند وارمان دیرین خودو خانم خود را به سر رساند ، باوجود تهیدستی تقریبا مصارف عروسی راپوره کردند ، روزهای عروسی انورنزدیك می شد خیالها وارزوهای پدرومادر انور

درحال به سررسیدن بود ، به عروسی انور چند روزمانده بود وهمه چیز تیاربود که صفحه تاریخ ورق زده شد

درصفحه (۵)

تګل

چیرته موږ اوچیرته داصاحبان!!

سید شهریار

دمرانو غوښنی دي چې په سکروټو وریتیږی لوګی اوتپونه یې دي چې دخلکو زړونه لاپسی تخنوی اوخوړلو ته یې هڅوی اوخپله خواپری یخوی ترپخیدو وروسته دنوش کولو لپاره دمیلمنو مخی ته په ډیر ادب اواحترام سره کیښودل کیږی وړی وړی دلګی ترینه راتاویږی اودخولی خوند پری تروسکونکی کوی تیپ اوکستونه هم ناراستی نه کوی غبرګ غبرګ اورنګ په رنګ اوازونه دسګرټو لوګی دي چې دځنو خولو نه په ډیره تندی منډی وهی دځان لپاره دخلاصی لاری لټوی اوپه لړه شیبه کې ترلیری ورسیږی .

تش لاس بلکل نشته په هرلاس کې اورلګیت اویادسګرټو دبلی موجودی اونه په ډودی بس هرمیلمه هرسړی په منډه کې دی ګرمه ګرمی ده دناستی ځای هم نشته یوه ډله لا تللی نه وی چې بله ډله رارسیدلی وی اودغوښنی اندازه یې ښودلی وی دپخلی دالړه شیبه انتظار هم ځنی صاحبان ډیر ځوروی : پخپله وایي چې موږپه نورو هوټلونو کې هم خوړلی اوڅښلی دي ، خودومره بدتمیزی ولا که وی داخولا بیخی بی نزاکتی ده خوچی کله وخوری اوډك شی نوبیاً په مطمین زړه په مکیز مکیز قدمونه پورته کوی اودموټر سیټ ته ځان وروغورځوی اوپخپله مخه ځی .

دلته بهریو دری کوچنیان هم ګرځی راګرځی چې زړی لمدی توتی یې په لاسونو کی دي له هوغم نه ناخبره نه یې په غوښو څه کارشته اونه په ډوډی بس هرمیلمه چې دموټر نه خپله نازولی پښه راکوزه کړی نودوی په منډه ځان وررسوی هریو چې مخکی په موټر تونه ووهله نوموټر دهغه شی اوبیا هغه نور بلی خواته ګوری راګوری دی له موټر څخه تولی دوړی لرې کړی اوکه کوم ځای یی ډیر ناولی وی نودخولی لیاړی پری وموښی اوپاك یې کړی صیب چی دهوټل نه راووځی اوروپی دوه ورکړی نو دډیری خوشحالی نه یې په مخ کې سرخی وځغلی راوځغلی په موټی کې یې کلکی کړی اوهغو نورو ته ووایی ولاچی سړی خوښه وو دوی روپی یې راکړی هغوی هم دده خبره بدرګه کړی هو ستا نصیب لا ښه دی ، بختور یی ! کوچنیان راته افغانان ښکاری ځکه یو خوبې لباس

(۵)مخ کی

زلزله په اپارتمان کې ..

پدغه شپه دهمدغه لعنتی تلویزیون له امله ښه ناوخته ویده شوی وم شاید یوولس نیمی یانځه کم دوولس بجی به وی چې ویده شوم خوب هم نه و هسی می سترګی پټی وی دخلیج جګړه نوی پیل شوی وه اودغی جګړی زموږ په اپارتمان کی ښه ډیر تاثیر کړی و داسی لکه چی دوه ، دری ږه زموږ داپارتمان ترشا لویدلی وی نوځکه کله می چی سترګی پټی شوی بیا زه وم اوخلیج ، الوتکی وی اوبمونه چې پدې کې چا راباندی بږغ کړ «پورته چې زلزله ده !» غوږ ته می چې دزلزلی کلمه راورسیده ، یودم نیغ راکښیناستم اوهمدارنګه نیغ ودریدم اومنډه می کړه ، په منډه کی یواځی دروازه راپه زړه شوه ، ځکه دمرګ اوژوند ترمنځ پدې کمه موده کې هم ژوند خپله لارراوښوده اومغزو می هم کاروکړ.

خوچې دروازی ته ورسیدم ددروازی کلپک رانه ورك شو ، په تیزی می دواړه لاسه ښکته ، پورته وتپول خوځه په لاس رانه غلل ، رښتیا چې وروستی عقل ږومبی نه وی که نه دبریښنا په سویچ می لاسونه وربرابر شول اوکه می سویچ وهلی وای اوبریښنا می روښانه کړی وای په اسانی به می کلپك هم موندلای وای خو هغه وخته یواځی کلپك پیداکول راته ترهرڅه ګټوربنکاریده .

ترڅه لاس تپولو وروسته می اخر کلپك لعنتی وموند اوژر، ژر می پرانیست ، دروازه می پرانیسته اوووتم ، پدی کی می ماشومان راپه یاد شول ، په منډه کی می میرمنی ته ورغږ کړ « ژرکوه ماشومان درسره راواخله » بوټونه اوکمیس هم راپه زړه شول خوداغوستلو لپاره یی وخت ډیر کم راته ښکاره شواوهمداسی لوڅ لغړ اوپښی لوڅی دکور دهلیز ته راووتم ، داچی ددهلیز ګروپ روښانه ونو په منډه می دبلی دروازی کلپك پیدااوپرانیست .

چی په منډه بیرون دهلیز ته راووتم له یوه ګاونډی سره چی هغه له مانه هم ګړندی منډه رااخیستی وه دومره په شدت ولګیدم چی په سترګو می تپه تیاره شوه اوسر می راباندی وګرځید، چی راپه خود شوم میرمن می هم رارسیدلی وه ، ماشومان یی هم ورسره رااخیستی وو ، زه یی ورکش کړم اوویل « ژرکوه چی غرق شوو».

د« غرق » کلمی اوریدو می سرعت نور هم زیات کړ ، نه پوهیږم چی په څومره تیزی اوښکته به له دریم پوړ اوکړوړو زینونه په دومره لږ موده کې چی دزلزلی اخرنی تکان می په وروستی دهلیز کی محسوس کړ راکوز شوی وم ، داسی چی دټولی زلزلی موده به یوه یا یوه نیمه دقیقه کیدله ، خو دغه دهلیز چی داپارتمان بیرون ته په همدا یوه دروازه ختمیده له دومره خلکو ډك و چی یو پل اخیستل هم پکی له امکانه وتلی ؤ.

دټولو سینی اوساوی بندی وی اوپه وارخطایی سره یی ناری وهلی « ژرکوی چی قتل شوو! » هریوه داهڅه کوله چی ځان ته څه لارپیداکړی اوله مرګه ځان وژغوری خوامکان یی له منځه تللی و ځینو ښځو خو دوخت په نظر کی نیولو سره فریادونه هم رالنډ کړی وو اوپه همدا یوه خبره یی قناعت کړی و چی « وای خداجان ! » .

پدی کی بریښنا هم لاړه اودهلیز داسی تیاره شو چی «ګور» هم پری روښانه و که نه ټولو په هغه روښنایی کی هم ګور ګڼلی ؤ ځکه ټولو په سلو کی ۹۵ خپل مرګ حتمی ګڼلی و اوپه سلو کی پنځه یی پر دروازی له وتلو سره تړلی و ، هرچا خپل ټول زور په کاراچولی و خودمخالفو قوودفعی له امله ټول زور بی اثره شوی ؤ همدی کش ګیر کی یوه ناری کړی « کلمه ووایی ! زلزله خلاصه شوه » خنداراغله پدی چی دغه خوارته ایله اوس کلمه ورپه یاد شوه ځکه ما له دی مخکی ویلی وه اوهمدارنګه می میرمن ته هم ورپه یاد کړی وه ، چی دهماغه له امله دهغی یاد قوی شوی و او« دستکول » یی هم وریاد شوی و خوله وارخطایی یی بیرته له یاده وتلی ؤ .

خلکو چی دزلزلی دخلاصیدو واوریدل لږ په دمه کې شول ، زوړونه یې پریښودل اودزلزلی معلومولو لپاره یې ځانونه تکیه کړل ، خوله دروازی نه یو ځل وتل دټولو په زړه کې ارمان پاتی شوی ؤ اوچې امکان یې نه درلود نودوی هم رنې ، رنې کتلی اودمرګ لحظی یې شمیرلی خلك یو ، یو بیرته دکوړونو په خوا وخوځیدل خوماته دروازی دبندیدو رازمعلوم حتمی ښکاره شوه اوچې بیا مې پوښتنه وکړه نودروازه ځکه بنده شوی وه چې داول پوړ څوکسانو په یوه وخت اویوه سرعت ځانونه دروازی ته رسولی وواوهریو پدې تمه چې ژرووزی په دروازه ورننوتلی ؤ اوپدې کې ټول سره بند شوی اوښتی وو بیا چې ورپسی نوررارسیدلی ووهغوی هم داکوښښ کړی ؤ چی ژر بیږن ته ووزی اوځان له مرګ وژغوری نودې کارهغوی هم بند کړی وو پداسی حال کې چې ټولو خپل وروستی زورپه کاراچولی وه یو هم نه و بریالی شوی ترڅو ووزی اوبل ته لږ چوله پیداشی .

نوځکه موږ ټولو دزلزلی ټول تکانونه دهغوی له ورسره ویرهی اووحشت په همدغه دهلیز کې له مرګ سره په لاس وګریوان تیر کړل اودوتلو ارمان مو لاتراوسه په زړه کې پاتی شو.

چیرته موږ اوچیرته ...

په بده ورځ دی اوبله دا چې دفارسی زبان میلمه سره فارسی هم وایی خوځانته پخپلو کې همدغه پښتو .

خدای پاك خبر چې په دوی باندې به دورځی څه څه تیریږی ځکه چې غریبی اونیستی یې دولو پوری کلکه نښتی ده اودانسانانو دټولی نه یې ویستلی دي بدتاثیرپری هغه وخت وشی چې دهوتل چښتن ورته دڅه کارووایی کارهم څه خیر کارنه وی خو یا سګرټ راوړه اویا نصوار .

اوددې نه پرته نونوربنه چالاکه دي دچا پروا هم نه ساتی ددومره تشی ملا سره یی بیا هم ارادی دتاتری نه پورته دي په مسافری اوبی وطنی یې هیڅ چورت هم ندی خراب .

که دوی بی پرواهم دي خوزه ددوی ددې بی پروایی سره موافق نه یم ما ولیدل پخپلو ګناهګارو سترګو می ولیدل چی یو کاکا دخپل ځان دمریدو وروسته یوه کیله دغی یو کوچنی ته ورکړه ده ډیره په خوشحالی کیبله سپینه کړه نیمه یې پخپله وخوړه اونیمه یی خپل څیره ورته یې چې ورورېی ښکاری ورکړه هغه بل کوچنی هم وارخطاغوندی رامنډه کړه چې ګوندی کیلی زیاتی وی خوکیله یوه اوکسان دری ؤ په مخ کې یې دخفګان اومایوسی اثار راپیداشول اوپخپله وړه ژبه یې وویل چې ځانته ځانته یې خوری خیر خدای به یې ماته هم راکړی اویبا ...

غټکی خوورته څه ونه ویل کشری سمدستی ورته وویل چې هو ستا لاس ته خوچې درشی نو بیا خوبی په غلا خوری اویا یی پخپل جیب کې واچوی او دخپل ورکوټی وروړلپاره یې وړی اواوس یې له موږ څخه غواړی ځه خپله مخه کوه نورنو هغه بی ځوابه شه اوغلی ددوی خواته ودرید دواړو ورونو خپلی خوږی لیاړی تیری کړی اوورکوټی غټ ورورته وویل که چیر بابك شهید شوی نه ولی نواوس به موږ هم داوریتی غوښی اوتازه میوی خوړلی هغه هم په چورت کې شه هو ولا چې سم خوندونه به وای اودسریتوب ژوند به وای خوځه خیر تیریه شی اوتیر به شی ...

خومرور شوی پری راودانګل هو ویه یی خوری که ستاسی بابك مړدی نو زما بابك خوژوندی دی فقط پښی یې دبم له لاسه غوڅی شوی دي هغه خودې وخوری اویا دي په موږ باندی وخوری دومره اسانی خبرونه دي داخو ستاسی غټه بی عقلی ده چې ددي خلکو سره ځان سموی چیرته موږ اوچیرته داصاحبان ! خپله غریبی کوی ستاسی خولی ددي خوږخوږو شیانو دخوړلو نه دي اوس نو دده دی خبرودا دواړه ورونه راغونج کړل اوپه فکرکې ولاړه خوچې دموټر هارن یې واورید نو هارن یې خیالی دنیا دری وری کړه اوټولو یو ځل بیا په پراخه تښته په ګډه سره دموټر پلوته ورمنډه کړه بخت به دهغه چاوی چې په موټر باندی ټوټه کیږدی اودخپل سترګی په لارکورلپاره دګیډی ټوښه برابره کړی .

ددښمن په مورچلونو دمجاهدینو ځپونکي عملیات

دیو روسی لوړرتبه مشاور اودرژیم دیو دګروال په ګډون ددښمن درویشت تنه افراد په هغه بریالی حمله کی وځپل شول چی زړورو مجاهدینو دلوګر ولایت دمحمد اغی دولسوالی دقلعه تاج خان په سیمه کې دکابل رژیم په یوه لویه قرارګاه وکړه .

یوې جهادي خپروني ددغه خبردخپرولو په ترڅ کې زیاته کړی چې زړورو مجاهدینو ددغی حملی په ترڅ کې ددښمن پنځه محاربوی ماشینونه،یو عراده زرهپوش،یو(D.C) توپ،دوه داېوس توپونه دمخابری ار۱۱۸ یوه دستګاه،نولس لوی اوواړه موټرونه وران اودوه دګاز ٦٦ موټرونه،یو امبولانس،دری میله ار، پی ، جی راکټونه لوژستیکی بیلا بیلو موادوسره یوه اندازه وسله هم مجاهدینو ولجه کړیده .

همداراز په خبرکی راغلی چی ددښمن ټینګی موضعګانی ورانی اودهغو ډیپو ګانو ته یی اور اچولی دی .

باید وویل شی چی دروان کال دمیزان دمیاشتی راپدیخوامجاهدینو دلوګرپه ولایت په تیره بیا دمحمد اغی په ولسوالی باندی خپل فشارزیات کړی اوپه هغه کې یی ددښمن له ځپلو سربیره زیات شمیر مالی اوځانی تلفات هم وراړولی دي .

روس غواړی چې صدام باید په اقتدارکې پاتی شی ولی امریکا ددی مخالفت کوی

لندن دکب ٤مه :

دعراق دجمهور رئیس صدام حسین دراتلونکې په هکله دروس اوامریکا دمشرانو ترمنځ څه مخالفت راولاړشوی دی .

دبی ، بی ، سی راډیو وایې دروسیې جمهوررئیس ګورباچوف غواړی چې صدام حسین باید په خپل اقتدارکې پاتی شی ، ځکه هغه له روسیې سره دوستانه اړیکې لری ، اودروس دګټو خوندی پاتی کیدل هم دصدام حسین له اقتدارسره تړلی دی .

له بلی خوا دامریکا جمهوررئیس (بش) پدې لټه کې دی چې دعراق جمهوررئیس صدام حسین باید په هرصورت کې ختم شی ځکه هغه په راتلونکې کې هم هغوی ته دپریشانۍ دپیداکیدو باعث ګرځیدای شی ، له بلی خوا دعراق مخ په وړاندې قوت داسرائیلو لپاره هم خطرلری .

دروس دسولی په پلان کې هم ددی ضمانت ورکړل شوی چې دصدام حسین اقتداربایډ پرخپل حال پاتی شی .

بیا دتوحید په منارو کې دتکبیر چغې دي
ددهریت په ضد اعلان دی دقیام قیام
دبت شکنو په حرم کې واویلا ده ددین
دلوی واړه په خوله ناریدي داسلام اسلام

خاطره های جاویدان ...

وباب مصیبت اغازید وهمه چیز شکل دیگری گرفت زمین وزمان ، کوها واسمان و ... سیاه گشتند ، دشمنان مردم ووطن درراس کارقرارگرفتند ، چند روزنه گذشت که دراکثر مناطق قیامها شروع شد انوروسخی که ازپدر قصه های ترکستان و بخارا را شنیده بودند ، میدانستند که حا لا چه کنند ، دیگربرای انور عروسی مفهومی نداشت ، انور وسخی بامجاهدین پیوستندویااسانی تکتیکهای جنگی اموختند وفداکاریهای بی دریغی نمودنددربسیاری ازعملیاتهاشرکت نمودند ، زبانزد مردم گردیدند ، انوروسخی درهرعملیات یکجا باهم می رفتند این بارنیزیکجا بودند ومیخواستند مرکز مهم دشمن راکه دریکی ازراهای مجاهدین قرارداشت فتح کنند ، عملیات خیلی بشدت جریان داشت ،مجاهدین به سرعت پیش می رفتند هرطرف اتش مرمی بود نعره های الله اکبر ازهرطرف به گوش می رسید ، دشمن درحال فراربود ، اکثر نقاط بدست مجاهدین افتاد ، مجاهدین درمراحل اخیر فتح بودند که صدای انفجار همه رامتوجه خود ساخت لحظه ای سکوت حکمفرماشد ، صدای چه شده ،چه گپ است ، سکوت راشکستاند ،مجاهدین درپی جستجو شدند یك کلاشینکوف شکسته ویك کلاه پکول رایافتند جستجو راسرعت بخشیدند که چند قدم دورجسد های پرخون انور وسخی راکه نزدیك هم افتاده بودند یافتند انها یکجا به لقا ءالله پیوستند .

په تیر پسې :

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

دمسلم ژباړه

« یوه افغانی سپین ږیری چې زه ولیدلم ودارشو، خو چې ما په ماته ګوډه فارسی هغه ته ووېل چې زه یو مسلمان روسی پوځی یم اومجاهدینو ته رسیدل غواړم ، سمدستی یې ماته خپل څادر راکړ اودکورشاته وابنو کې یې پټ کړم »

دروسي پوځ څخه دتیښتی داکیسه د« لینن ګراد » اوسیدونکې نصرالله ایویچ بیانوی چې په کندز کې دمجاهدینو سره یو ځای شوی اودروسانو پرضد یې جهاد کې عملی برخه اخیستی د«سرګی نصرالله » پلارنی ځای دروسیی ترتسلط لاندی اسلامي ریاست تاجکستان دی خوددوي کورنۍ اوس په لینن ګراد کې اوسیږی پلاراومورېې طبی تحصیلات کړی ، مشر ورور یې یوه بانك کې ماموردی اوورکوټی خورېې په یوې ترافیکی پیښنی کې وژل شوی ، نصرالله دلینن ګراد دکوست لیوا له لیسی څخه ترفارغیدو وروسته غوښتل «انستیټوت » کې ځان شامل کړی خوترهغی دمخه پوځ کې وظیفی اجراکولو ته وغوښتل شو ، هغه ته کله چې پوځ ته دراغوښتلو تیلفون وشو ترڅنګ یې ورته دااخطارهم ورکړ چې که په خپل وخت وظیفی ته حاضر نشی ، قانونی چلند به درسره وشی.

په روسیی کې دقانونی چلند مراد څه دی ؟ داهرروسی ته معلومه ده ددی مطلب دادی چې کله دکی ، جی ، بی درسوا اداری دظلم او شکنجو څخه خلاص شوی بی ځایه توردریاندی لګوی زندان ته دی لیږی اوترهغی وروسته بیا دخپلی خوښی چاری دریاندی پرمخ وړی .

«سرګی رحمت نصرالله » اودهغه مورا وپلار په پوځ کې دوظیفی اجراکولو باندی راضی نه ؤ ځکه چې په همدی ورځو کې دده دپلارکریم الله ایویچ یو ملګری چې په افغانستان کې پوځی دندی سرته رسولی وی بیرته راستون شوی ؤ هغه ورته ویلی ؤ چې روسی پوځیان په افغانستان کې دعامو خلکو پروژنه بوخت دی په همدی خاطر دسرګی رحمت نصرالله پلار خپل زوی ته دپوځی روزنی مرکز ته دتلو څخه دمخه ویلی ؤ که تررروزنی وروسته تا افغانستان ته ولیږی نوهلته دافغانستان پرخلکو اومجاهدینو ډزی ونکړی .

په ټاکلی وخت سرګی رحمت دروزنی مرکز ته ورسید ، دهغه سره یوځای (۳۰) نورتنکی ځوانان هم دی مرکز ته راورسیدل ورو ورو مرکز کې د(۳۰۰) په شااوخوا کې تنکی ځوانان راټول شول سرګی په دی مرکز کې (٦) میاشتی درس ووایه اودخپلو زده کړو په اساس ( )رتبه ورکړه .

تردی وروسته یې ده ته په دی مرکز کې نورو ځوانانو ته دتدریس ورکولو وظیفه ورکړه ، دڅه کم یوکال ترتیرولو وروسته یې دده نوم دهغو پوځیانو په لست کې ولیکه چې افغانستان ته لیږل کیدل ، تردی وروسته دده دایمان دازمایش لحظی پیل شوی ، ده داسلام په باب هیڅ معلومات نه درلودل ، خودخپل دین مشرانو ته یې دیر احترام درلود اودمسلمانانو پرخلاف جنګیدلو ته یې په هیڅ صورت کې غاړه نه کیښوده هغه پرافغانانو دډزو کولو هیڅ فکرهم نه کاوه ، دلینن ګراد څخه ترتاشکند پوری هغه په اورګاډی کې سفروکړ اوترهغی وروسته دیوی پوځی ترانسپورتی الوتکی په ذریعه دکابل هوایی ډګرته راانتقال کړای شو ، په کابل کې تر(۲۲) ورځو تیرولو وروسته هغه ته کندز ته دتلو امر وشو ، په کومی الوتکې چې دی کندز ته لاړیه هغې کې د(۸۰) روسي پوځیانو سربیره (۱۰۰) افغانی پوځیان هم ؤ الوتکې ته افغانی پوځیان تر ټولو مخکې راختلی ؤ ځکه دالوتکې په لومړیو چوکیو کې ناست ؤ دالوتکی

دجګیدو څخه دمخه هغوی ددی لپاره چې بم یا کومه بله وسله ورسره نه وی ترڅو الوتکه له منځه یونه سی ، تلاشی شول ، دتلاشی په دوران کې یې زیات شیان تری واخستل ، خوپرکوم شی چې سرګی رحمت خپه شوی هغه دا ؤ چې روسي پیلوټانو دافغانی پوځیانو سره ډیربدچلند کاوه ، کله چې پیلوټ الوتکی ته راوخوت اووی لیدل چې مخکې چوکیو کې افغانان ناست دی داسی وګرځیدتابه وی چې اوردی وراچولی وی ، په کنځلو یې پیل وکړاوافغانان یې وروستیو سیټونو ته ولیږل اودهغوی ځای ته یې روسی پوځیان رلوستل ، دپرواز په دوران کې یوه افغانی پوځی کانګی وکړی اوکله چې دتشناب خواته روان شودپیلوټ ترڅنګ یوه روسی صاحب منصب تفنګچه پری راوایستله اوتشناب ته دتلوڅخه یې منع کړ.

دکندز په هوایې ډګرکې ترکوزیدلو وروسته سرګی رحمت ته دهوایی ډګر په امنیتی پوستو کې وظیفه ورکړه ورسپارل شوه ده دلته دیوه صاحب منصب ترمشری (۴۳) ورځې تیری کړی په دی دوران کې دنیکه بخته چې دی دمجاهدینو پرخلاف کوم جنګ ته ونه لیږل شو ددوی کوم ملګری چې دمجاهدینو پرخلاف جنګ ته لیږل شوی ؤ دهغوی په باب سرګی رحمت وایی چې دبیرته راګرزیدو په وخت کې به هغوی سخت وارخطا ؤ مخونه به یې تګ زیړ ګرځیدلی ؤ په ښاراوځینو کلیو کې دوژل شوو روسی پوځیانو جسدونه به ددی هوایی ډګر له لاری روسیی ته لیږل کیدل ، دمړیو جسدونه به یې تابوت کې اچولی ؤ اوبندلو موټرو کې به یې هوایی ډګرته راوړل اودهغه ځایه به یې دالوتکو له لاری روسیی ته وړل ، اوپه دی ډول به یې هغه دعامو خلکو دلیدو څخه پټ ساتل ، خوسرګی ته ځوځلی پرداسی موټرو چې دروسی پوځیانوله مړو به ډك ؤ دپهره داری وظیفه ورسپارل شوی په دی خاطر هغه له دی راز څخه خبر شوی ؤ ، یوه ورځ چې دمړو ډك موټر هوایی ډګر ته راورسید په هغی ورځ امنیتی انتظامات دیر سخت ؤ سرګی وایی :« قوماندان زما خواته راغی اوماته یې په تنده لهجه ووېل چې زه داراز پټ وساتم اوکه کوم پوځی دی ځای ته راغی نومسولیت به یې ستا پرغاړه وی اوانجام به یې بیا دیر بد وی ».

دسرګی رحمت لپاره دی ځای کې دوظیفی اجراکول ډیر سخت ؤ خودهغه ځای څخه تښتیدل هم اسان کارنه ؤ هغه ډیر زیات کوښښ کاوه چې دمجاهدینو سره دچا په وسیله اړیکی ټینګی کړی خوکله چې په دی کارکې بریالی نشو ، ده په ډیر مشکل سره ددی فیصله وکړه چې پخپله دهغوی سره اړیکی ټینګی کړی ، هغه کله چې وتښتیدپه څه ډول دمجاهدینو سره یو ځای شو ؟ داکیسه دسرګی رحمت الله له خولی واوری :

« یوه شپه چې دروسی پوځیانو مړی یې هوایی ډګرته راوړل ماخپل ملګری پهره دارته ووېل ، زه یو واردپوستی پوری ځم تاسو دلته ودریږی زه به ډیر زر بیرته راشم ، هغه زما دراتلو انتظارایست خوزه کله چې دباندی راووتم ځان می یوی ویالی ته وغورځاوه اومخالفی خواته می تګ پیل کړ .

په دی ویالی کې می تردیره مزل وکړ ، زما ملګری پهره دارډیر انتظاروکړ اوبیا بنایی بل کوم پهره داربه ورته راغلی ؤ چې ده زما دراپیداکولو لپاره نعری پیل کړی ، خوپه دی ورځ دمړو ډك موټر پرله پسی راتلل اوپهره داران ډیر محدود ؤ په دی خاطر هغوی تردیره وخته زما دپیداکولو هڅه ونکړه

« نور بیا »

> په روسیي کې دقانون چلند مراد څه دي ؟ داهرروسي ته معلومه ده ددي مطلب دادي چې کله دکي ، جي ، بي درسوا اداري دظلم اوشکنجو څخه خلاص شوي بې ځایه توردریاندي لګوي زندان ته دلیږي اوترهغي وروسته بیا دخپلي خوښي چاري دریاندي پر مخ وړي

> ددوي کوم ملګري چې دمجاهدینو پرخلاف جنګ ته لیږلي شوي و دهغوي په باب سرګي رحمت وایي چې دبیرته راګرزیدو په وخت به هغوي سخت وارخطاو مخونه به یې تګ زیړ ګرځیدلي ؤ

رژیم کمونست کابل میخواهد ...

تلاش سیاسی می کند فعالیت چشمگیرسیاسی ندارد .

کمبود فعالیت وتلاش دیپلوماتیك یکی ازکمبود یهای است که همچون بی اتفاقی های موجود میان رهبری جهاد ، تمام افتخارات بدست امده رابه نابودی کامل تهدید می نماید اگروضع موجود ادامه یابد این وضع میتواند دوستان جهاد را نیز ازاعتماد بیك پیروزی درخشان مجاهدین بکاهد .

طوریکه رژیم کابل گفته است دربهبودی روابطش با جمهوری اسلامی ایران هیچ مشکلی وجود ندارد ایران کشوریست که دوملیون افغان مهاجردرانجا حیات دارند و چندین تنظیم جهادی نیز درانکشور فعالیت دارند حکومت ایران پیوسته به مجاهدین اطمینان میدهد که به حمایت قاطع خویش ازموقف انها ادامه میدهد ولی ادعای رژیم وسایر شواهد موجود درزمینه میتواند اعتماد ما را برین گفته حکومت ایران متزلزل سازد وتاجاییکه دیده میشود سیاست ایران دربرابر رژیم کابل اشتی جویانه ترگردیده است درپاسخ باین تغیر موضع سیاسی ایران رهبری جهاد نیز نتوانست تمام مخالفین رژیم کابل رادریك صف ودریك جبهه واحد دورهم جمع اورد این امر میتواند بحیث بهانه ای ازطرف ایران برای نزدیکی با کابل ارایه گردد .

زمان به پیش میرودفرصت ها ازدست رفته میرود دشمن راولو که بسیار کوچك است باید بزرگ شمرد وبرای مقابله همه جانبه باان پلان همه جانبه سنجید ولی قبل ازهمه باید با قلب های پاك وبدون مدعا ازمسند خود پسندی وخود خواهی فرودامده درکنار سایر تمام برادران قرارگرفت .

گزارشهای مطبوعاتی حاکی ازافزایش تماسهای سیاسی میان نمایندگان رژیم کابل وحکومت پاکستان ازیکطرف ونمایندگان روسیه وپاکستان ازطرف دیگرمیباشد درارتباط سفر اخیر هیات پارلمانی روسیه به پاکستان گفته میشود که این هیات ضمن تماس با مقامات پاکستانی بخاطر حل مساله افغانستان به توافقاتی دست یافته است .

پیروزیهای یاد شده بخشی ازثمره فعالیت های گسترده دیپلوماتیکی میباشد که رژیم کابل ومسکو بخاطر به انزواکشانیدن سیاسی نیروهای جهادی براه انداخته اند .

دربرابر چنین اقدامات وتلاشهای شیادانه ، درجبهه جهاد نه تحرکی موجود است ونه هم عمل چشمگیر .

اکنون این تشویش متاسفانه روبه توسعه است که خاموشی درجبهه جنګ ودرصحنه سیاست نماینده گی ازعدم کارایی صف مانموده ودوستان مانیزبان صدای گوش دهند که ازدوربگوش شان میرسد وبان بحیث یگانه صدا درسکوت توجه کنند چنانچه گفته اند صدای دهل ازدورخوشست

«تازه»

په خلیج کې ځمکنۍ جګړه پیل شوه

ریاض، دحوت ۵ مه : نړیوال خبررسان اژانسونه خبرورکوي چې دعراق پرخلاف دامریکې اودهغې دمتحدینو پراخه ځمکنۍ حمله دحوت په پنځمه دیکشنبې دورځې په سهار دپاکستان په وخت دشپږو بجو په شااوخوا کې پیل شوه .

اتحادي پوځونوله دري لوریو نه دکویټ پر نیول شوي خاوره باندې حمله پیل کړه ، دغه حمله دامریکې دمتحده ایالاتو دجمهور رئیس بش له خوا عراق ته دوروستي ضرب الاجل دمودې له پای ته رسیدو څخه ۸ ساعته وروسته پیل شوه .

دجنګ له پیل څخه وروسته اتحادي پوځونو قوماندانې ادعا وکړه چې ددوي پوځونو دنیول شوي کویټ په خاوره کې ۱۵ کیلو متره پرمختګ کړي دي خبرونه وایي چې اتحادي پوځونو ادعا کړېده چې دهغوي قواوي دعراق دخاورې پرلورمخ په وړاندې ځي .

دعراق حکومت دمتحدینو دځمکنې حملې څخه وروسته په خپله لومړنۍ پوځي اعلامیه کې ادعاکړې چې ددوي پوځونو داتحادیانو حملې په شاتمبولې اودایې هم ویلې چې اتحادي پوځونه په هرسنګر کې له ماتې سره مخامخ دي .

له بلې خوا واشنګتن کې دامریکې ددفاع وزیر ډک چیني خبریالانو ته دجګړې دراپوروکولو په ترڅ کې وویل چې اتحادي پوځونو ، دکویټ دازادولو لپاره دعراق پر ضد په پراخوعملیاتو پیل کړي دي همدارنګه ده وویل دجنګ دراپوروونو خپرول به دپوځي ضرورتونو له مخې تریوې مودې پورې بندوي

مظاهره چیان مجسمه بزرگ ...

افزایش یافته واوفیصله نمود تا زمام امور را خود بکف گیرد .

بااین تظاهرات که درتیران مرکزالبانیا ودریك شهربندری البانیا صورت گرفت پولیس پس از ان با مظاهره چیان یکجا شد که فیرهای اخطاری شان نتوانست مظاره چیان راتیت وپرك نماید.

رئیس جمهور مردم البانیا راتشویق نمود تا ازتشدد خودداری نمایند ، محصلین وخواستار تغیر نام پوهنتون تیرانانیز شدند که بنام انور خواجه مسمی میباشد .

طبق یك خبر دیگر درنتیجه برخورد هواداران دموکراسی وطرفداران رژیم کمونستی البانیا درمقابل اکادمی نظامی تیرانا چارنفر کشته وتعداد زیاد مجروح وپانزده نفر دستگیر شدند خبرحاکیست که تظاهرکننده گان بخاطر سرنگون ساختن مجسمه انورخواجه بصوب اکادمی رفته بودند قابل یاداوری است که البانیا اخرین کشور ازاقمارشوروی است که هنوز هم درچنگال رژیم کمونستی قراردارد ومردم انجا باالهام ازمردم سایر کشورهای اروپای شرقی وبیش ازین نمی خواهند دراسارت رژیم کمونستی بسر برند.

قوماندان محمد انور دبي ، بي ، سي له خبریال سره په مرکه کې

زمونږ داوسنی عملیاتو هدف په سروبی ، ماهیپر اونغلو کې دپوستو فتحه کول دي قوماندان محمد انور ددې پوښتنی په ځواب کې چې په کابل باندې حمله دنوموړي شورا له خوا نده تائید شوی دسروبی اونغلو دبریښنا پرېندونو دوروستی حملی په هکله داسی معلومات ورکړل موږ په سرتاسری شورا کې داسی فیصله کړېده چې دژمی په موسم کې باید په کابل باندې عملیات ونه شي اوداعملیات دپسرلی په وخت کې کله چې واوری کمی شي تریوی واحدی قوماندی لاندی پیل شي لاکن داپدې معنی نده چې په عمومی توګه موږ خپل عملیات بند کړو دااوسنی عملیات چې ددلوی په ۲۹ نیټه ترسره شوی دي اویا مخکی لدې نه کوم عملیات شوی دسروبی ، ماهیپر اودنغلو په سیمو کې دپوستو دفتحه کولو لپاره ترسره کیږی داعملیات زمونږ په پروګرامونو کې شامل دي ، خوددولت دمقاومت په لړکې دبرق ستنی هم له منځه ځی چې ددې زیان مسوولیت پخپله دنجیب درژیم په غاړه ده نه دمجاهدینو.

قوماندان محمد انور داحمد شاه مسعود دوژلو دقصد په برخه کې دخبریال پوښتنی ته داسی ځواب ورکړ : پدې برخه کې ما هم دومره اوریدلی ؤ او وروسته له هغه په یوه بین المللی کنفرانس کې دګډون لپاره امریکی ته ولاړم خو هغه معلومات چې پرون می ترلاسه کړل ویل کیږی چې احمد شاه مسعود اوانجینرحکمتیار پخپلو منځو کې مخابروی ارتباط نیولی اویو هیئت تاکل شویدی څوددې مسلی په هکله تحقیق وکړی انشاالله داسی مسایل به ونه کولی شی چې ددوی دسولی اوامنیت دراوستلو قرارداد اخلال کړی .

دقوماندانانو دشورا استازی قوماندان محمد انور دشورا دپرمختګ او بریالیتوبونو په باره کې وویل :

دافغانستان دقوماندانانو سرتاسری شورا دخدای (ج) په فضل دیر ژر پرمختګ کړیدی موږ غواړو چې داوړی لپاره نظامی پلانونه جوړکړو ترڅو متحده اوهم اهنګ عملیات شروع کړو .

اوس پدې شورا کې دافغانستان ټول اقلیتونه اودافغانستان ټول اقوام اوقبایل موجوددي ، اوس هم زمونږ هیئت کویټی ته تللی دی چې پدې کې دشورا ځینی مشران لکه مولوی صاحب جلال الدین حقانی ، حاجی عبدالحق ، مولوی ارسلان رحمانی ، امین وردك ، اخترمحمد تولواك اونور قوماندانان شامل دي ترڅو په هغو سیمو کې دپسرلی ددریمی شورا لپاره دافغانستان تقریباً ټول قوماندانان دعوت کړی شي .

نوموړی پدې باره کې چې په بین المللی کنفرانس کې په کومو موضوع ګانو خبری وشوی داسی څرګندونی وکړی :

پدې کنفرانس کې دافغانستان لپاره په غیر پوځی مرستو خبری وشوی اوهغو موسسو اوخلکو پکې ګډون کړی ؤ چې له افغانستان سره انسانی مرستی کوی .

دافغانستان دقوماندانانو سرتاسري شورادخدای (ج) په فضل دیر ژر پرمختګ کړی دی موږ غواړو چې داوړي لپاره نظامي پلانونه جوړکړو ترڅو متحده اوهم اهنګ عملیات شروع کړو

دقوماندانانو دشورا له خوا هم یو تن دعوت شوی ؤ چې ددې مرستو دنوعیت اوڅرنګوالی په هکله چې واقعاً خلکو ته رسیدلی اوکه نه، معلومات ورکړل شي نوپدې برخه کې موږ بشپړ معلومات ورکړل .

پاکستان ته دروسي هیئت دسفر بل اړخ ...

دکابل رژیم هم په یوړ دیپلوماتیکو مانورو لاس پوری کړی اوداسی ښکاری چې یو نوی ډرام دصحنی مخ ته راایستل کیدونکی دی .

ایران په کابل کې دخپل فرهنګی مرکز دپرانیستلو سره موافقه وکړه اودکابل رژیم سره یې خپلی مرستی هم پیل کړی .

له بلی خوا په ژنیو کې دملګرو ملتونو دانسانی حقوقو اداری په خپل (٤٧) اجلاس کې دروس اوپاکستان له خوا یو ګډ قرارداد هم په پوره اکثریت منظور کړ چې په هغه کې به افغانستان کې پر ازادانه اوعامو انتخاباتو ټینګارشوی خودانه ده معلومه شوی چې دنجیب درژیم سرنوشت به څنګه وی په هرحال دروس اوپاکستان داموافقه هم دغور اودقت وړبلل کیدی شی لدې ښه ترامعلومیږی چې په راتلونکی نژدی کې به ددغه ډول توافقاتو اونژدیوالی له امله دنویو سیاسی لوبو اوبدلونونو څیره څرګنده شی .

اوس چې دژمی موسم مخ په تیریدو دی اودپسرلی په رارسیدو دمجاهدینو دهم اهنګو ګډو اویو مخیز عملیاتو له پاره شرایط او زمینه مساعد یږی دروسانو اودکابل دمزدور رژیم داډول هلی ځلی هغه سیاسی مانوری دي چې غواړی لدې لاری پری دهغه جدی ګواښ مخه ونیسی چې دیخنی په تیریدو دمجاهدینو دګډو یو مخیزو اوهم اهنګو عملیاتو له اړخه دکابل مخ په زوال رژیم ته متوجه دي ځکه دقوماندانانو شورا په خپل وروستی اجلاس کې ددې فیصله کړی وه چې دموسمی حالاتو په سمیدو به په ټول هیواد کې دیو مخیز ګډو اوهم اهنګو عملیاتو لړی پیلیږی او همدی ځایه ده چې روسان اودکابل رژیم مذبوحانه هلی ځلی کوی چې دداډول متحدو، یو مخیزو اوهم اهنګو عملیاتو دپیل کیدو ترمخ حالات اوفضا داسی بدله اوخړه پړه کړی چې که نورنه وی اقلاً دداسی یوکوټلی پروګرام په وړاندی خوخنډونه رامنځ ته کړی ځکه خو دې تکی ته دجهادی قوتونو پام رااړول ضروری دي چې داستعمار ددغو سیاسی لوبو اومانورو په وړاندی بیا هم دیوه متحد ، پیاوړی اومنطقی دریځ له مخی مقابله وکړی اوخپل وحدت نورهم پسی ټینګ اوپراخ کړی .

د خلیج جګړه مسلمان امت ته ...

شي دړوندیو تجربو په څیر یې دخپلو ولسونو دسوکالي اوازادۍ دساتنې په لاره کې په یادولري.

لومړي داچې دخلیج جګړې وښودله چې هرهیواد چې دخپلې خاورې ددفاع اوساتنې اهلیت اواستعداد نه لري هغه به دکویټ په څیر دغاصبانو ښکارو ي اویا به هم دسعودي غوندې دښمنانو ته ددفاع لاس اوږدوي ، چې دوهم صورت یې دښمنانو ته دخپلې خاورې مقدساتو اوافتخاراتو دنیولو لپاره له بلنې پرته بل څه نشي تعبیرېدای ، که کویټ چې دنړۍ ددیرو شتمنو هیوادوله جملې نه ؤ دخپلې خاورې ددفاع لپاره پوځ درلوداي ، عراق به هیڅکله هم پرهغوي دورختلو خیال نه و کړي اوکه سعودي عربستان په کرایي اوپردیو پوځونو خپله خاوره اومقدسات نه ساتلاي ښکیلاکګري امریکایي لښکري یې خپلې خاورې ته نه واي وربللي اوس به په خلیج کې دامریکا اواسرائیلو په خوښه دمسلمانانو کورونه نه لوخړه کیدل .

اواوس به ډك چیني په سعودي اوخلیج کې ددایمي پاتې کیدو ترانې نه زمزمه کولي .

دوهم داچې اسلامي نړې خپلې شخړې کشالې اوناخوالې پخپله حل نه کړي پردي اوطاغوتي قوتونه هیڅکله هم دمسلمانانو دوستان نشي کیداي ددوي په باب دقران همغه پریکړه بلکل سمه ده چې یهود اونصارا دمسلمانانو دوستان نشي کیداي اونه هغوي دمسلمانانو کشالې حل کوي ، مسلمان ملتونه بایدخلیج له فاجعې نه عبرت واخلي ، پردیو ته دخپلو هستیو دتباه کولو بلنه ورنکړي اونه ښکیلاك ته دمرستې دلاس اوږدولو حماقت وکړي .

طبیعي ده چې دخلیج جګړه به دمسلمانو هیوادونو پراقتصاد داوږدې مودې لپاره نه جبرانیدونکې اغیزې وکړي خوله دې سره دښکیلاك اوبرغل پرخلاف چې دمسلمانانو په منځ کې کوم موج راولاړشوي دي په راتلونکي کې دامریکا اولویدیځ ښکیلاك حیثیت اوموقعیت هم ترجدي ګواښ لاندې دي ،اوس که دعراق اوکویټ دهیوادونو ویجاړیدل اوتباه کیدل دنوري اسلامي نړۍ دبیداري سبب شوه هم ښه ده کنه نوهمدغسې به نور اسلامي هیوادونه هم پخپل وار دصلیب اویهودو په دامونوکې ښکاراوپه تباهي محکومیږي .

والسلام

دحوت ددریمې نیټې له ویاړه ډک پاڅون..

عقیدې اوغصرحیاتو په درلودلو سره دکفر اوالحاد په مقابل کې جنګیدلې اوخپله خاوره یې په خپلو وینو خړوبه کړیده خو دښمن یې ټل تیښتې ته مجبورکړی دی.

په کابل کې د۱۳۵۸ کال دحوت ددریمې نیټې پاڅون دتیرې کوونکو په وړاندې دهغه باتورقام اوتیر دمقاومت یوه بله نمونه ده چې دافغانانو پخوانۍ روڼ اوله ویاړه ډک تاریخ یې ژوندۍ کړاوپدې عصر کې یې نړیوالو ته وښوده چې داهماغه داحمد شاه بابا اومیرویس نیکه زامن دي او دوی لکه په دپلرونو په شان هیڅکله دغلامۍ زنځیر ته غاړه کښیښودی .

په همدې نیټه چې دجمعې مبارکه شپه وه دالله اکبر ملکوتي غږ دکابل له کورونو کوڅو ، بازارونو اومحلونو څخه اوچت شو اوداغږونه پیا داسې سره غبرګ اوخپاره شول چې دکمونستو خلقیانو اوپرچمیانو اودهغو دباداراتو په زړونو کې یې سخته اندیښنه او ویره پیداکړه وطن پلورونکې غلامانو غوښتل چې دټانکونو اوماشینګنو په زور دخلکو دالله اکبر غږجوپ کړي خودې ملکوتي غږچوپتیا نه منله .

هر ا دکابل مسلمانو اودینداروا اوسیدونکو په همدې سره شپه کې چې په هره خوا سپینې داوږې پوټي وې ترسهاره دتکبیر (الله اکبر) نعرې دکابل په فضا کې اوچتې کړي سهاردلوراخشونه مخکې تاریته اوښخي ، واړه اوزاړه په تش لاس اوپا له کورتکو سره په ایماني جلبه له کورونو اوکوڅو راووتل اوپه واټونو کې سره غونډ شول .

دالله اکبر په شعارونو سره اسلامي جلبات اواحساسات داسې پاریدلي ؤچې دهیچا هم نه مرګ ته پام ؤ اونه ژوبلې ته نه دطیارو څخه پرواوه اونه هم دټانکونو پلغه ورځ ډیر مسلمانان دروسانو په ګولو شهیدان شول ، په وینو کې ولمبیدل ، ځینې یې جیلونو ته ولږیدل اوبیزیات ځمیر یې ټپیان شول . مګر دوی هم دکوټکو اوډبرو په وسیله پر دښمن برید کاوه ، ټانکونه اوموټر یې وسوځول ، ګڼ شمیر روسي پوځیان او کمونستان یې دخپل ارځوځالي یې ورته ریجاړي کړي .

افتخاردې وي په داسې ملت چې خپل مرګ په سترګو ویني خودحق اوحقیقت لپاره دیوې ستنې سیم په اندازه نه تیریږي اوډځان په شهیدولو سره دخپل دقام سعادت اونیکمرغي ته لاره اوارژي .

که څه هم پدغه تش لاس قیام کې دمسلمانانو مرګ ژوبله ډیره وه خوله همدې قیام سره ګوډاګي رژیم اودهغه روسي باداران دغرور اوتکبر له دنګو ماڼیو څخه ولویدل اودحتمي بریالیتوب خوبونه یې په شک اوتردید بدل شول ، ددې پاڅون سره خلقیانو اوپرچمیانو ته څرګنده شوه چې دمارکس اولیان کمونستي پوچه نظریه هیڅکله نشي کولي دافغانستان دخلکو زړونو کې چې دالله اکبر په نور روښانه شوي لاره پیدا کړي اوپدې پاڅون کې افغان ولس وښودله چې بری دهغه چا په برخه دي چې د حق اوحقیقت اودخپل هیواد دازادۍ لپاره جنګیږي .

اوس چې ددې تاریخي ورځې دشهادتونو ترڅنګ پوره شپاړس لکه مؤمن افغانانو ددین اووطن په لاره کې قرباني ورکړل اودربیرونو اوناخوالو په تیرولو سره دافغان جهاددبریالیتوب انګازه دنړۍ هرګوټ ته ورسوله توپه کاروه چې جهادي قیادتونو اوخواکونو ترډې زیات افغانان دانتظار په سرو لمبو کې لولپه نکړي ، دریښتینې اتحاد ، اتفاق اوورورولۍ له لارې دخپل دروستي هدف په لور چې دکابل دګوډاګي کمونست رژیم راپرزول اوپه افغانستان کې داسلامي دولت جوړول دي اساسي ګام اوچت کړي .

داکاریه هله ترسره شي چې ټول جهادي قوتونه تریوه واحد قیادت لاندې هلې ځلې پیل کړي اوټول اختلافات شاته وغورځوي .

دخوست شاوخوا کې •••

دغه بمباری دتیری اونی څخه پیل شوی اودوه کسه مجاهدین شهیدان اودوه نور یې ټپیان کړی ، اودهستوګنی یو شمیر کوروته له منځه تللی .

دمزدور رژیم دغه هوایی اوځمکنی حملی د مجاهدینو له خوا دخوست ترمحاصری لاندې ښاربانډی دیوی غځنی حملی دترسره کیدو دمخ نیوی لپاره کیږی .

خبرتیا

گرانو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډیر درناوي سره خبردرکووچې :

دافغانستان دمجاهدینو راډیو دوه میاشتې کیږي چې په پرله پسې توګه یې په خپلو خپرونو پیل کړی دی .

تاسې کولې شی چې زموږ خپروني فعلاً دورځې دوه ساعته په لاندې وخت اوخپو واوري .

لومړۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له (۷) بجو څخه تر(۸) بجو پورې

دوهمه خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازدیګر له (۵) بجو څخه تر(٦) بجو پورې

څپې :

په منځنۍ څپه (میډیم) (۱۲۰۰) کیلو هیڅز اوپه لنډه څپه (شارټ)(۳.۲) میګاهیڅز چې له (۹۰) متره باینډ سره برابره ده خپریږي

دافغانستان دمجاهدینو دراډیو تلویزیون دلوی مدیریت لخوا پوست بکس (۱۰۳۳) یونیورسټي ټاون پیښور

دقوماندانانو دسرتاسري...

په رارسیدلو خبرونو کې ویل شویدي چې دهري حوزي په سطحه دمخابروي سیستم دواحد مرکز دفعالیدو په هکله هم تصمیم نیول شویدي .

خبرزیاتوي چې دجنوب لویدیزو ولایاتو قوماندانانو دشورا دهیئت دروند اوتود هرکلي وکړ اودوورولۍ اوصمیمیت په فضا کې یې په پیښو اومسایلو بحث وکړاوپشپړي موافقې ته ورسیدل .

په خبرونو کې ویل شوي چې دجنوب لویدیزو ولایاتوقوماندانانو هیئت ته ډاډ ورکړچې دشورا داهدافو په لارکې به دزړه له تله هڅې اوهمکاري کوي ، په هیئت کې دکابل قوماندان الحاج عبدالحق ،دوردګو دجمعیت اسلامي قوماندان مولوي محمد شرین شجاعت ، اودحزب اسلامي (خالص) قوماندان قاضي محمد امین وردګ ، داتحاد اسلامي دلوګرقوماندان مولوي حمیدخان،دنهضت اسلامي مشر محترم حیدري ، دشورا اتفاق قوماندان غلام محمد نظري ، داتحاد اسلامي دپکتیکا قوماندان مولوي ارسلان رحماني،دهرات قوماندان جګتورن علاءالدین دانجنیر احمد شاه مسعود نماینده انجنیر شریف الله ، دکابل دکوه صافي قوماندان مولوي صدیق اودهرات حاجي قاري برخه لرله.

ضربات مجاهدین برمواضع وافراد دشمن

دراثر عملیات مختلف مجاهدین درولایات کابل ، بلخ وولسوالی پلخمری بیش از بیست وپنج تن ازافراد دشمن هلاك بیست وپنج تن ازملیشای رژیم به مجاهدین تسلیم ، یك پوسته فتح ودوتانك دشمن منهدم گردید .

یك منبع شورای قوماندانان ضمن ارایه این مطلب به اداره جریده (جهاد هنداره) علاوه نمود که بروز چارم حوت مجاهدین تحت قوماندهٔ محمد علم برپوسته های امنیتی دشمن درمنطقه بیکان مزارشریف حمله نمودند که در اثر فشار هجومی مجاهدین بیست وپنج ملیشای رژیم به مجاهدین تسلیم شدند درین برخورد دوتن ازمجاهدین نیز مجروح شدند .

درخبر امده است که مجاهدین قوماندان مولوی محمد قل بروز ۲۹ دلو بر پوسته های دشمن درشهر پلخمری حمله نموده باعث هلاکت رسانیدن بیست وپنج تن ازافراد رژیم وانهدام دوعراده تانك یك پوسته رژیم رافتح نمودند گفته شده است که درین عملیات پنج مجاهد نیز به شهادت رسیده اند.

همچنان درتلگرامیکه یکی ازقوماندانان ازکوه صافی به پشاور مخابره نموده امده است که بتاریخ ۳۰ دلو مجاهدین میدان هوایی کابل رابا پرتاب راکت زیر اتش گرفته یکپایه رادارویك فروند طیاره ازبین رفته ویك تعمیر نیز خساره مند گردیده است درین حمله سیزده عسکروصاحب منصب رژیم نیز کشته شده اند .

خبر می افزاید که حملات مزید مجاهدین درولایت قندهار ومناطق مربوط کابل نیز صورت پذیرفته ومنجربه هلاکت ومجروح شدن تعدادی ازافراد رژیم شده است .

پاکستان ته دسعودي حکومت مرسته

دحوت لمړۍ نیټه :

دبهرنیوخبری اژانسونو دخبر له مخی دسعودی عربستان حکومت پریکړه کریده چې ددریو میاشتو په موده کې هره ورځ پنځوس زره بیرله تیل دمرستی په توګه پاکستان ته ورکوی.

په خبر کې ویل شویدی چې داپه دسعودی عربستان لومړنۍ مرسته وی چې دخلیج دجګړی دپیلیدونه وروسته دپاکستان سره یې کوی .

لدې تیل سره به دپاکستان دورځی ددریمی برخی نه زیاتې اړتیا پوره کیږی ، خودپاکستان درسمی منابعو له خوا څه نه دی ویل شوی .

دهیئت تحریر ترنظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي ټاؤن پیښور

تیلفون :... (٤١٧٤٦)

په هرات کې دمجاهدینوبریالي عملیات

هرات میډیا :

دهرات له ولایت څخه دکویټې په ښارکې دمیډیا نمایندگی ته په رارسیدلو خبرونو کې ویل شوی چې ددې ولایت سرتیرو مجاهدینو ددلوی له (۱۸می) څخه تر (۲۵می) نیټې پورې دهرات تورغونډۍ په لویه لار دکل خرما اوجیداد په سیمو کې ددښمن داکمالاتی کاروانونو دځپلو لپاره کمین نیولی اولاره یې بنده کړې وه .

ددې کمین په نتیجه کې ددښمن دوه زغروال ټانکونه ، څلورعرادې لارۍچې له سلاح اومهماتو څخه ډکې وی له منځه تللی ددښمن له افرادو څخه (۱۵) تنه مړه ، ٤صاحب منصب اودوه تنه عسکر په اسارت نیول شوی .

ددښمن (۸) کسه په کلکه ټپیان شوی ، او۱۸ میله مختلف ډوله وسله مجاهدینو په غنیمت نیولی .

دکشمیر دحزب المجاهدین سازمان دهندله صدراعظم سره دخبرو اترو دعوت رد کړ

سری نګر دکب ٤مه :

دکشمیر ازادی غوښتونکو یوه سترسازمان حزب المجاهدین دهند دصدراعظم چندرشیکر سره دخبرو اترو دعوت رد کړ.

دغه تنظیم ویلی چې دهند حکومت غواړی دکشمیر دازادی غوښتنی تحریك ته تاوان ورسوی. دکشمیر دمسلی دسوله ایزحل په لړکې دهند دحکومت له خوا دخبرو اترو اوسنی وړاندیز، دفعلی وضعی سره هیڅ ډول ارتباط نلری .

دنوموړی تنظیم یوه مشر په یوه وینا کې ویلی چې دهند حکومت غواړی دکشمیری مجاهدینو دمختلفو ډلو ترمنځ غلط فهمی راوړاندی کړی اوپدی توګه دازادۍ تحریك ته تاوان ورسوی .

دبی ، بی ،سی راډیو دخبر مطابق دهند صدراعظم ویلی دي چې دکشمیر دمسلی دحل لپاره خبری اتری یوازی دهندداساسی قانون په حدودو کې ترسره کیدای شی ولی کشمیری مجاهدینو دهغه دغه وړاندیز رد کړی دی اوویلی یې دي چې-دغه مذاکرات دامنیت شورا دپریکړه لیکونو په ارتباط کیدای شی .

بوریس یالتسین دګورباچوف داستعفا غوښتنه وکړه

دروسی فدراسیون مشر بوریس یالتسین دشوروی دجمهوررئیس ګورباچوف دسمدستی استعفا غوښتنه کړی اوویلی یې دي چې غواړی هیواد ددکتاتورۍ په لور بوځی .

یالتسین دروسیی له تلویزیون سره په مرکه کې وویل چې قدرت دې یوی داسې شورا ته وسپارل شی چې پکې دټولو شوروی جمهوریتونو مشران برخه ولری .

دیوه بل خبرله مخی په لس ګونو زره کسانو دکریملین دماڼی مخکی دحوت په دریمه نیټه مظاهری وکړی اودجمهوررئیس ګورباچوف داستعفا غوښتنه یې کړی ده .

پدغو مظاهرو کې چې دروسیی دډیموکراتیك تحریك له خوا جوړه شوی وه ، مارش کوونکو دیوی پریکړی په ترڅ کې دروسی فدراسیون دجمهوررئیس بوریس یالتسین ملاتړ کړی اودخلکو څخه یې غوښتی چې دمارچ د۱۷ می په عمومی رایګیری کې دې دشوروی اتحاد دوحدت ساتلو په باب منفی رایه واچوی .